# کامبخش خوشی که

کامبخش خوشی که له بنده بندیوانه
اوبه مه خړوه مه نیسه ماهیا نه
تر پرون پوری خیرات دی تولوله
شتمنی دی کړ،له کومه غټ شیطانه
داسلام د پردی شاته غداری کړی
ستا اعمال هیڅ نه ښکاری د انسانه
دا وطن دی جهنم جوړ کړ په خلک
ته رښتیا پاکستانی یی نه افغانه
د قدرت لمر دی اوس په کوزیدو دی
ځکه بند کی اچوی ژورنا لستانه
خوله د هیچا بندوی نشی ظالمه
ریښتیا نه پټیږی هیڅکله نادانه
اخرت کی به ځواب د ستا څه وی
چی اسلام بد ناموی نا مسلمانه
د پرد و په مټ ترڅوپوری ځان ساتی
اخر لاړ به شی له ملکه فرنګیانه

پوهندوی دوکتور سید حسام (مل)
جرمنی ۲۰۰۸-۱-۱۹

19012008

www.ayenda.org